مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۹/۱۹

# رانغلې، چې رانغلې

کوڅو کي مې، راتګ ته دې ريحان کرلی و
ما ځان کرلی و، هم مې افغان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

هوس ته مې هيڅکله، ورپام غوندې هم نه و
يو خيال مې د هغه، د دې جهان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

پټي او کروندې مې وې شنې کړې په هر لوري
ګرځنو د کوڅوکي مې خپل ځان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

لاله او ارغوان مې درولي هرکلي ته
ګلابو غوټۍ لاندې مې ارمان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

ما خپله هڅه وکړه، تې منې که نه منې
خواريو سره مل مې يو جانان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

ما لاره په اميد سره ښارله، خو رانغلې
له اوښکو سره مل مې خپل ايمان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

۲۰۱۹/۰۶/۲۶
هيدرسلبف
دنمارک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ